# په سویډن کښې د پښتو ژبې د زده کوونکو

# د پښتو ژبې د تدریس اتم کتاب

# ۸

ترتیب کوونکی : عبدالعلي رسول زاده

# تر پیل د مخه څه خبري

لکه څنګه چي تاسي ته معلومه ده  په سویډن کي د خارجیانو او مهاجرو کورنیو اولادونه د خپلي مورنۍ ژبي او کلتور د زده کړي او ساتني حق لري . د   مورنۍ ژبي او کلتور د دغه زده کړي او ساتني د پاره سویډني مقاماتو په ښوونځیو کښي د نورو مضمونو په څنګ کښي د مورنۍ ژبي او کلتور تدریس  هم شامل کړئ دئ چي نومړي يې د ښوونځي د نورو مضمونو په شان ارزش لري، ځکه يې نو د دغه تدریس تعلیمي نصاب او د نومړو ور کولو سیستم د ښوونځیو د نورو مضمونو په شان د ښوونځیو د وزارت د خوا څخه ترتیب کړئ دئ . وروسته تر دې نو بیا د اړونده مورنیو ژبو د  ښوونکو له خوا د کار پلان جوړیږي چي دغه د کار پلان په دواړو ژبو یاني مورنۍ ژبه او سویډني ژبه لیکل کیږي .

پدې کتاب کي شاید د بیولوژي او ځني نورو مضمونو په باره کي هم څه نا څه لیکل سوي وي، دا ځکه چي زموږ زده کوونکي باید وکولای سي چي د مورنۍ ژبي څخه و سویډني ته او د سویډني ژبي  څخه و مورنۍ ژبي ته ترجمه و کړای سي . د دې کار د پاره  باید زده کوونکي دغه لغاتونه په دواړو ژبو و پېژني .

د ټیپي غلطیو د سمون او نظر ور کولو د پاره د ښاغلي رحمت الله سروري  چي په مالمو کي د مورنۍ ژبي پښتو ښوونکئ دئ تر کتني لاندي ایښودل سوي دي .

دغه کتاب  به د ازمویني په توګه د یو څه مودې د پاره تدریس سي او  د دغه تدریس په جریان کښي به د ښاغلو ښوونکو، میندو، پلرو او زده کوونکو نظریې د قدر وړ و ګڼل سي.

د دې کتاب مضمونونه د افغانستان د اوسنیو، پخوانیو او ځني نورو کتابو څخه راټول سوي دي.

په درنښت

Abdul Ali Rasulzada
Sunnan  vägen  271
216 17  Malmö
Tel: 040- 156753
alirasulzada@hotmail.com

۳۱ \ ۹\۲۰۱۲

بسم الله الرحمن الرحیم

# د حضرت محمد (ص) هجرت

کله چې حضرت محمد (ص) په مکه کې د خپلې پیغمبرۍ اعلان وکړ نو تر هغه وروسته به یې د مکې د خلکو د خوا څخه ډېر مشکلات لیدل اوحتا (حتی) هغو بـه کوښښ کاوه چې دی و وژنـي . د یـوې خـوا حضرت محمد (ص) غوښتل چې خپل ځان او مسلمانان د خطر څخه و ساتي او د بلې خوا یې نه غوښتل چې د مسلمانانو او د مکې د قریشو تر منځ جنګ وسي نو دا یې ښه و بلل چې د مدینې د خلکو بلنه و مني او دی د مسلمانانو سره یو ځای و مدینې ته هجرت وکړي .



د قبا د مسجد اوسنی بڼه

کله چې مدینې منورې ته ورسېدل نو حضرت محمد (ص) پر یوه ډګر یو ټوټه مځکه خونبه کړه او ویې غوښتل چې هلته یو مسجد جوړ کړي . هغه مځکه یې رانیول او یو ښه مسجد یې هلته جوړ کړ .

لغاتونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| هجرت | کوچ ، کډه | ډګر | میدان |
| بڼه | رنګ ، څېره ، عکس | | |
| بلنه | را غوښتل ، مېلمستیا | قریش | په مکه شریفه کې یو قوم |

دئ

تمرین:

۱- لاندي لغاتونه په جملو کي استعمال کئ!

هجرت: ______

ډګـــر: ______

بلنه: ______

مسلمانان: ______

۲- د مدنې مسلمانانو ولي حضرت محمد(ص) ته بلنه ور کړه چي د خپلو مسلمانانو ورونړو سره یو ځای مدینې منورې ته هجرت و کړي؟

______

______

______

______

______

______

# قران کریم

قران شریف د الله (ج) کتاب دئ چي پر حضرت محمد (ص) يې د جبرائیل علیه السلام په واسطه نازل کړئ دئ.

قران کریم دېرش سي پارې او يو سل څورلس سورتونه لري. خدای پاک قران شریف د انسانانو د لار ښووني د پاره را لېږلئ دئ. مسلمانان پر قران شریف باندي ایمان او باور لري.

# ملګري ته لیک

ګرانه ملګريه!
تر هر څه د مخه خپل سلامونه تاسي ته وړاندي کوم.
وروره! ډېر وخت کیږي چي ستاسي احوال نه لرم، خدای (ج) دي وکړي چي جوړ او روغ اوسئ. که زحمت نه وي يو لیک راولېږه چي ستاسي د احوال خبر راکړي.

په درنښت

ستاسي ورور ( ................ )

---

لغاتونه

| | | |
|---|---|---|
| نازل را لېږلئ | جبرائیل | هغه ملایکه ده چي د خدای (ج) |
| خبري يې پیغمبرانو ته راوړلې | لار ښوونه | يو څه ور ښوول، په پوهول |

تمرين : لاندي لغاتونه په جملو کي استعمال کړئ !

**نازل** : ________________________________________________

**جبرائيل** : ________________________________________________

**لار ښوونه** : ________________________________________________

**په درنښت** : ________________________________________________

وړاندي کوم : ________________________________________________

**حال** : ________________________________________________

د قران شريف په باره کي چي مو څه زده کړي دي و يې ليکئ !

________________________________________________

________________________________________________

________________________________________________

________________________________________________

________________________________________________

# د پښتو ژبې الفبې

د پښتو ژبې الفبې دغه لاندې توري لري.

ا ب پ ت ټ ث ج چ ح خ څ ځ د ډ ذ ر ړ ز ږ ژ س ش ښ ص ض ط ظ
ع غ ف ق ک ګ ل م ن ڼ و (ه ـه هـ) ی ي ې ۍ ئ)

❖ په دغو تورو کې (ث ح ذ ص ض ط ظ ع ف ق) تورى خاص د عربي ژبې توري دي. د دې معنا دا ده په کومو کلمو کې چې يو يا څو د دغو تورو څخه راغلي وي هغه کلمه د عربي ژبې خاصه کلمه ده لکه:

مثلث، حلوا، ذخيره، صافي، ضرب، طياره، ظاهر، معنا، حق او نور.

❖ (ټ څ ځ ډ ړ ږ ښ ڼ) خاص د پښتو ژبې توري دي. د دې خبرې معنا دا ده چې په هره کلمه کې چې يو د يا څو د دغو تورو څخه را غلئ وي هغه ښه پښتو کامه ده لکه:

ټيټ، ډنګر، ټغر، څپر، بړستن، ځالګۍ، رڼا، ږمنځ، ښځه او نور.

❖ (پ چ ژ ګ) د پښتو او فارسي تر منځ شريک توري دي.

که غواړو چې ښې پښتو خبرې و کړو نو ښه به دا وي چې داسې لغاتونه په کار واچوو چې د دغو (ټ څ ځ ډ ړ ږ ښ ڼ) څخه يو يا څو پکښې را غلي وي.

پام لرنه: زده کوونکي دې ټوله الفبې زده کې او هم دې د پښتو او عربي ژبې خاص توري زده کړي!

پنځه توري نور چي په پښتو کي سته اما په عربي او دري (فارسي) کي نه سته هغه د پښتو ژبي (ي) ګاني دي لکه:

ی: سړی، بنګړی، دی، لرګی، غویی او نور

ي: کالي، خواري، دي، سړي، سپي، ملګري، لري او نور

ې: مستې، شیدې، ادې، پایڅې، اوربې، ناوې او نور

ۍ: ډوډۍ، خولۍ، ګاډۍ، بدنۍ، هګۍ، هیلۍ، بوډۍ او نور

ئ: خورئ، را وړئ، وړئ، اچوئ او نور

تمرین:

۱- داسي ۶ کلمې و لیکئ چي د عربي ژبي خاص توري پکښي را غلي وي!

---

۲- داسي ۶ کلمې و لیکئ چي د پښتو ژبي خاص توري پکښي را غلي وي!

---

۳- داسي کلمې و لیکئ چي (پ، ژ، چ او ګ) په کښي را غلي وي!

---

۴- لاندي جملې په یوه (ی) در کړه سوي دي، تاسي یې و لولئ او (ی) ګاني یې سمي کئ!

- احمد د لوست په وخت کی (  ) ښوونکی (  ) ته غوږ نیسی (  ).
- زموږ ښوونکی (  ) ډیر (  ) ښه کار کوی (  ).
- ملالی (  ) لوبی (  ) کوی (  ).
- سدو ډوډی (  ) خوری (  ).
- شیدی (  ) ښه خواړه دی (  ).

# فعـل

**فعل** هغه کلمه ده چي د يوه کار کول ښکاره کوي لکه: خوري، راوړې، ليکې، پرې کوم، وينئ او نور.

په لاندي جملو کي تر **فعل** لاندي خط کش سوئ دئ ويې لولئ:

سدو توپ ته ګوري.
ملالۍ ډوډۍ خوري.
تاسي د کور څخه راغلاست.
دوی ډوډۍ خوړلې ده.
د دې خور د کابل څخه راځي.

زده کوونکي دي په لاندي جملو فعلونه پيدا کړي او پر يوه پاڼه دي يې وليکي!

يو سړی ډاکتر ته ورغئ او د ناروغۍ څخه يې شکايت وکړ.
ډاکتر ورته وويل: "ولي وختي را نه غلې"؟
ناروغ وويل: "پخوا مي له يوناني طبيب څخه دوا اخيستله".
ډاکتر وويل: "هغه مزخرف سړی دئ او د يو څو مزخرفو دواوو نومونه يې زده دي".

ناروغ ورته وويل: "هو! ستا مزخرف نوم يې هم زده وو".

زده کوونکي دي پخپله دلته لاندي لس فعلونه و ليکي.

______________ ______________ ______________ ______________

______________ ______________ ______________ ______________

______________ ______________ ______________ ______________

**فعل د وخت له مخي پر درې ډوله دئ يا فعل په درو وختو کې راځي لکه:**

اوس (حال)
تېره زمانه (ماضي)
راتلونکې زمانه (استقبال)

اوس به هره هره زمانه د مثالو سره ولولو:

**حال (اوس):**

هغه زمانه ده چې يو کار اوس کيږي لکه په لاندې جملو کې:

زه ښوونځي ته ځم.
ته ډوډۍ خورې.
د احمد ورو خط ليکي.
مورې کالي مينځو.
ملالۍ خپل کورنی کار کوي.

---

لغاتونه

| | |
|---|---|
| مزخرف | بد، خراب |

۱- تمرین: په لاندي جملو کي حال جملې و ښیاست!

☐ ملالۍ کور ته ولاړه.

☐ شین‌ګل به ښوونځي ته ولاړ شي.

☐ احمد ډوډۍ و خوړه.

☐ زمرک لوست لولي.

☐ زموږ ښوونکی ښه سړی دئ.

☐ هغه سړي و ویل.

۲- د لاندي کلمو څخه داسي جملې جوړي کئ چي حال زمانه و ښیي!

ډوډۍ ____________________

ښوونکی ____________________

سړی ____________________

هغه ____________________

۳- تمرین: لاندي ټوکه و لولئ، تر هر فعل لاندي یې خط کش کئ!

## ټـــوکه

یو زده کوونکی پر لاري رهي دئ او د ځانه سره وایي: "خدایه لندن د واشنګټن پایتخت کړې".

یو سړي ور ته وویل: "هلکه لېونی سوئ یې"؟

زده کوونکي ورته وویل: "نه صاحب لېونی سوئ نه یم، بلکي نن مي د

امتحان په پارچه کي ليکلي دي چي لندن د واشنګټن پايتخت دئ".

ماضي (تېره زمانه):
دا هغه زمانه ده چي يو کار په تېر وخت کي سوئ وي او دا زمانه پر درې ډوله ده لکه: مطلقه ماضي، قريبه ماضي او بعيده ماضي.

١ - مطلقه ماضي Imperfekt: چي يو فعل په تېره زمانه کي واقع سوئ وي لکه:

دوی کابل ته ولاړل.
زه د ښار څخه راغلم.
تاسي کورنی کار وکړ.
ملالۍ ډوډۍ وخوړه.

٢ - قريبه (نژدې) ماضي Perfektum: لکه

دوی ډوډۍ خوړلې ده.
تا خپل درس لوستلئ دئ.
ما د ښوونکي سره خبري کړي دي.
دی د کابل څخه راغلئ دئ.

٣- بعيده (لري) ماضي Pluskvamperfekt: لکه

مور ډوډۍ خوړلې وه.
دوی خپل کورنی کار کړئ وو.
تاسي هلمند ته تللي واست.
ملالۍ کالي راوړي وه.

تمرین: لاندي جملې و لولئ! کومه جمله چې مطلقه ماضي وي مخ ته یې ۱ ، که قریبه ماضي وي ۲ او که بعیده ماضي وي ۳ یې و مخ ته و لیکئ!

- ☐ افغانستان ډېره ښه هوا لري.
- ☐ افغانستان ډېره ښه هوا درلوده.
- ☐ افغانستان به ډېره ښه هوا و لري.
- ☐ مور خپل کورنی کار کړئ دئ.
- ☐ مور خپل کورنی کار کوو.
- ☐ مور خپل کورنی کار و کړ.
- ☐ سدو خپل کالي را وړي وه.
- ☐ سدو خپل کالي چټل کړه.
- ☐ سدو خپل کالي چټلوي.
- ☐ دوی کور ته ځي.
- ☐ ملالۍ ښوونځي ته راغله.
- ☐ تاسي د ملګرو کور ته نه ځئ.
- ☐ آس اوبه چښلي دي.
- ☐ مورک ټول کتابونه څیرلي وه.
- ☐ غله د کور د څښتن ټول کالي وړي دي.
- ☐ احمد د ورور سره کابل ته تللئ دئ.

# ټـــوکه

یو زده کوونکی پر لاري رهي دئ او د ځانه سره وايي: ”خدايه لندن د واشنګټن پايتخت کړې“.

یو سړي ور ته وويل: ”هلکه لېونی سوئ يې“؟

زده کوونکي ورته وويل: ”نه صاحب لېونی سوئ نه يم، بلکي نن مي د امتحان په پارچه کي ليکلي دي چي لندن د واشنګټن پايتخت دئ“.

---

لغاتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| رهي | تلل | بلکي | په بل ډول |

پايتخت — هغه ښار چي د هيواد پاچا يا جمهور ريس يعني حکومت کار پکښي کوي

---

تمرين: لاندي پوښتني ته جواب و واياست!

زده کوونکي ولي دعا کوله چي لندن د واشنګټن پايتخت شي؟

ځکه چي ______________________________

______________________________

______________________________

______________________________

# شپه او ورځ

ساعت، ورځ او کال د ځمکي او سپوږمۍ د حرکت څخه پیدا کیږي. د یوې ورځي معنا(معنی) دا ده چي ځمکه پر خپل محور باندي یو وار څرخي. دا چي موږ یې وینو چي لمر د مشرق څخه را خیجي (راپورته کیږي)او په مغرب کي لویږي د دې معنا دا ده چي ځمکه په یوه ورځ او شپه(شواروز) کي پر خپل محور یو وار را ګرزي.

د لمر ختو وخت لمر څرک بلل کیږي، لمر کرار کرار را لوړیږي څو څه موده وروسته مخ پر ښکته د لوېدو وخوا ته حرکت کوي چي دغه ته غرمه یا زوال وایي او کله چي لمر ولویږي نو ماښام سي.

ځمکه په ٣٦٥ ورځي او شپږ ساعته کي یو وار د لمر پر شاوخوا را ګرزي چي د دې ګرزېدو څخه څلور فصلونه لکه پسرلی، اوړی(دوبی)، منی او ژمی پیدا کیږي.

پخوا خلکو داسي ویل چي لمر د ځمکي پر شاوخوا ګرزي او ویل به یې چي ځمکه څلور کونجه ده او د غوایي پر ښکر تکیه ده هر کله که دغه غویی ستړۍ سو او سر یې ایسته کړ نو ځمکه لویږي. مګر ګالیله دا معلومه کړه چي ځمکه ګردۍ ده او د لمر پر شاوخوا ګرزي.

---

لغاتون

زوال — مخ پر ښکته، د منځه تلو په حال کي

تمرین : لاندي پوښتنو ته جواب و وایاست!

۱- یوه شپه او ورځ په څه نامه یادیږي؟

______________________________________________

۲- یوه شپه او ورځ څو ساعته دي؟

______________________________________________

۳ - مځکه په څومره وخت کي د لمر پر شا و خوا را ګرځي او د هغو ګرځېدو څخه څه شی پیدا کیږي؟

______________________________________________

______________________________________________

______________________________________________

______________________________________________

______________________________________________

______________________________________________

______________________________________________

# بي بي خديجه

بي بي خديجه د حضرت محمد (ص) لومړنۍ مېرمن وه او لومړنی څوک وه چي د حضرت محمد (ص) پر پيغمبري يې ايمان راووړ. بي بي خديجه پر حضرت محمد (ص) ډېره ګرانه وه او تر څو چي هغه ژوندۍ وه حضرت محمد (ص) بله نکاح ونه کړه.

بي بي خديجه د کوچنيوالي څخه يوه پاکه او ښه ښځه وه او خلکو به ددې کبله ورته طاهره (پاکه) ويله.

د بي بي خديجې څخه د حضرت محمد (ص) څلور لوڼې او دوه زامن پيدا سوي وه. د لوڼو نومان يې:

بي بي زينبه

بي بي رقعه

بي بي ام کلثوم

بي بي فاطمه

د زامنو نومان يې

عبدالله

قاسم

وه.

بي بي خديجه د مخه تر دې چي د حضرت محمد (ص) سره نکاح سي يوه شتمنه کونډه وه، هغه وخت د مکې معظمې د خلکو ژوند په سوداګري وو. په اوړي کي به تلل د شام څخه به يې مالونه راوړل او په مکه کي به يې خرڅول. په ژمي کي به يمن ته تلل او د هغه ځـايه به يې مالونه راوړل. که

به ځوک پخپله نه سوای تلای نو خپل مالونه یا پیسې به یې بل چا ته ور کول او په ګټه کې به یې د ځان سره شریک کول. دا چې بي بي خدیجه پخپله د قافلې سره نه سوای تلای نو خپل مالونه او پیسې به یې نورو ته د سوداګرۍ د پاره په شراکت ورکوله. حضرت محمد (ص) هم تر نبوت د مخه سودا ګري کوله زیاتره به یې خپل مال وړئ خو کله کله به یې د بل چا مال هم وړئ.

دا چې رسول الله ډېر امانتکاره او هوښیار سړی وو نو ډېره ګټه به یې کوله. نو هر چا به غوښتل چې خپل مال ورته ور کړي. یو وار بي بي خدیجې هم خپل مالونه ورته ور کړه، قافله شام ته تله، خدیجې خپل نوکر هم ور سره ولیږه. پدې سفر کې یې ډېره ګټه وکړه. د خدیجې نوکر د زلمي محمد ډېره ستاینه ورتــه وکــړه. دا خبري دخدیجې پر زړه ډېر اثر وکړ.

خدیجې خوب لیدلئ وو چې لمر راکښته سوئ وي او ددې ټول کور په روښانه وي. خپل خوب یې خپل د تره زوی (ورقه بن نوفل) ته چې د تورات او انجیل ډېر لوړ عالم وو ووایه.

هغه ورته وویل:" وروستنی پیغمبر را تلونکی دئ. او ته به نکاح ور سره وکړې".

د هغې ورځې څخه بي بي خدیجه سخته په انتظار کې وه. ډیرو سترو سردارانو او خانانو ور څخه د نکاح غوښتنه کړې وه، خو هغې یوه هم نه وه منلې.

خدیجې چې د خپل نوکر څخه د دغـه زلمي ستاینه اوربـدلې وه نـو زړه تـه

يې داسي ورغله چي هغه پيغمبر به دغه محمد وي نو پخپله يې ور ځني د نکاح غوښتنه وکړه.

حضرت محمد (ص) د خپل تره ابو طالب څخه پدې هکله پوښتنه وکړه. هغه سلا (مشوره) ور کړه او نکاح يې ور سره وتړله. د حضرت محمد د طرفه يې اکاګان (ترونه) او ځيني نور خپلوان د خديجې کور ته ولاړل. ابو طالب او د خديجې اکا (تره) دواړو د نکاح رسم او دود پر ځاى کړ، دا وخت د خديجې عمر څلوېښت کاله او د حضرت محمد عمر پنځه ويشت کاله وو.

بي بي خديجه تر نکاح وروسته پنځه ويشت کاله ژوندۍ وه او د نبوت په لسم کال وفات سوه.

---

لغاتونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| شتمنه | خانه، مړه | سوداګري | تجارت |
| اوړی | دوبی | قافله | د مسافرو ډله |
| امانتکار | صادق، چي ښه کارونه کوي | نوکر | مزدور |
| زلمی | ځوان | ستاينه | صفت کول |
| تره | اکا، کاکا | ستر | لوی، غټ |
| سرداران | ډېر لوړ خلک | | |

---

تمرين:

١- د بي بي خديجې د ژوند په باره کي مو څه زده وي و يې ليکئ!

___

___

___

___

۲- بي بي خديجې د تجارت (سوداګرۍ) د پاره خپلې پیسې چا ته او ولې ور کړې؟

دلته لاندي به د مکتب په باره کي يو نظم (شعر) و لولو .

# د مکتب ترانه

موږ شاګردان د مکتب　　ټول يو شوقيان د مکتب
شو بـه پوهان د مکتب　　لوی دئ جهان د مکتب
کتاب په لاس کښي ګرزوو پوهنځی کور زموږ
غـــيږ ده د مـــور زموږ
عـــلم هنـــر د ژوندون　　عـــلم دفـــتر د ژوندون
عـــلم بـــصر د ژوندون　　عـــلم اخـــتر د ژوندون
علم رڼا ده په رڼا کښي نعمتونه شته دي
ډېر عزتـونـــه شتـــه دي
دين و مذهب مو يو دئ　　قام او نسب مو يـــو دئ
عـــلم و ادب مو يـــو دئ　　کتاب مکتب مو يو دئ
نن د پوهني پسرلی زموږ فکرونه پالي
زموږ ټول ورونړه پالي

---

لغاتونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| پوهنځی | د پوهي ځای | هنر | کمال ، پوهه |
| دفتر | کتاب ، د ليکلو ځای | بصر | سترګه ، ليدنه |
| نعمتونه | د ژوندانه ښه خواړه او شيان | پالي | روزي ، ساتي |

دلته لاندي به و لولو چي نظم (شعر) څه ډول کلام دئ:

# شعر یا نظم

شعر هغه کلام یا خبري دي چي پر یوه سم ترتیب یا نظم شوي او یا لیکل شوي وي.

نظم څه ته وایي؟
د نظم کلمه په هر څه کي په کار اچول کیږي.
کېدای شي چي د یوه شاګرد د مکتب کارونه سم وي یعني نظم ولري.
دا په دې معنا چي د شاګرد کتابونه، کتابچې، قلم او د ښوونځي نور شیان په بسته، ښوونځي او کور کي سم پراته دي. د معلم (ښوونکي) خبري یې ښې زده کړي وي، کورنی کار یې کړئ وي، کله چي کور ته راشي کالي او بوټونه پر خپل ځای کښېږدي.

کېدای شي چي په یوه کور کي هر شی پر نظم پروت وي. د دې خبري معنا دا ده چي کاسه د کاسې پر ځای، کالي د کالو پر ځای او د کور نور شیان د هغو شیانو پر ځای پراته دي.

دا کار په خبرو او لیکنو کي هم کیږي. په شعر کي هم چي یا په خبرو کي وي او یا په لیکنه کي وي کلمې پر یو منظم ځای راځي. هغه څوک چي دا ډول خبري جوړولای سي شاعر بلل کیږي. دلته لاندي به د شعرونو یو څو نمونې و لولئ:

# توتکۍ

تـــوري تـــوتـــکـــۍ          دوه تـــاره دي لکۍ
جـوړه کـه ځـالـــۍ          پکښي واچوه هګۍ

په پورتني شعر کي هره ليکه د بيت په نامه ياديږي او د هري لکي نيمه برخه د نيم بيت په نامه ياديږي لکه:

تـــوري تـــوتـــکـــۍ          دوه تـــاره دي لکۍ

پورتنۍ ليکه (کرښه) يو بيت بلل کيږي.

تـــوري تـــوتـــکـــۍ
پورتنۍ ليکه (کرښه) نيم بيت دئ.

دغه منظمي خبري (کلام) د شعر په نامه هم ياديږيي.

ولي خلک شعر يا نظم ليکي؟
د دې خبري جواب دا دئ چي منظمي خبري يا شعر د اوربدونکي پر احساساتو ډېر تاثير کوي.

په نظم يا شعر کي نظم څه رنګه را ځي؟
د دې له پاره چي دغي پوښتني ته جواب و وايو نو به ښه دا وي چي لومړی دغه لاندي ټکي پېژنو:

١– سېلاب
٢– قافيه

## ١– سېلاب:

د مخه تر دې چې سېلاب په پښتو کې و پېژنو ښه به دا وي چې لومړی یې په سویډني ژبه کې و پېژنو.

په سویډني ژبه کې stavelse ور ته وایي، هغه دا چې په یوه سویډنی کلمه کې ږغ (اواز) څو ځایه دریږي لکه:

Bord په دغه کلمه کې ږغ (اواز) یو ځای دریږي

Peter په دغه کلمه کې ږغ (اواز) دوه ځایه دریږي یعني pe - ter

Dator په دغه کلمه کې ږغ (اواز) دوه ځایه دریږي یعني Da - tor

Skrivelse په دغه کلمه کې ږغ (اواز) درې ځایه دریږي یعني skri - vel - se

په پښتو کې هم موږ کولای شو چې په دغه ډول په کلمو کې د اواز دربدل پیدا کړو چې د اواز دغه دربدو ته سېلاب وایي لکه:

د (ورى) په کلمه کې اواز یو ځل دریږي

د (نانى) په کلمه کې اواز دوه ځایه دریږي، یعني نا ـ نى

د (و دربږه) په کلمه کې اواز څلور ځایه دربږي یعني و ـ د ـ رب ـ ږه

تمرین: اوس که مو د کلمې ویشل پر سېلابو زده کړي وي نو په خپله دغه لاندې کلمې پر سېلابو و ویشئ!

څغلي ______________________________

لیکي ______________________________

اغوندي ______________________________

چاړه ______________________________

اورېدونکي ______________________________

منظمي ______________________________

په نظم یا شعر کي باید د هر بیت سېلابونه د نورو بیتو د سېلابو سره برابر وي لکه په لاندي شعر کي:

## باران

بـــاران اوریـــــږي      هر څـــه لنـدیـــږي

لنـــده نبـــارو شوه      لنـــده پـــیشو شـوه

لنـــدي چنـــچنـــي      هــم شــولـي ونـــي

لانـــده مرغـان شول      لانـــده کارغان شول

راځئ چي د پورتني شعر د هر هر نیم بیتي سېلابونه سره جلا کړو:

با - ران - او - ري - ږي ( ۵ سېلابه )

هر - څه - لـن - دي - ږي ( ۵ سېلابه )

لن - ده - نبا - رو - شوه ( ۵ سېلابه )

لن ـ ـده ـ پي ـ شو ـ شوه ( ۵ سپلابه )

لن ـ ـدي ـ چن ـ چَ ـ نې ( ۵ سپلابه )

هم ـ شوَ ـ لې ـ وَ ـ ني ( ۵ سپلابه )

لان ـ ـده ـ مر ـ غان ـ شول ( ۵ سپلابه )

لان ـ ـده ـ کار ـ غان ـ شول ( ۵ سپلابه )

تمرين :

۱ـ د لاندني شعر يا نظم سپلابونه پيدا او جلا کئ !

| | |
|---|---|
| پـــر مـا ملگري دي گران | دوی دي پـــر ما مهربان |
| مورِ يـــو ځای لوبي کوو | کړو تـوپ بازي پر ميدان |
| کلـــه دمبـی ِ کـــوو | خپل موټرک کـــړو چالان |
| هـم اکوبـــکو کـــوو | کله وايـــو بنـه چيستان |
| يـــو چـــي کيـــسه وايي | نور غوږ نيسي په بنه شان |
| کلـه سنـــدري وايـــو | خوشالـه ناست يو خندان |
| پـــر سـړک لـــوبي نکړو | ځکـــه خطـــر دئ دځان |

۲ـ

# پلار

پــلار مهــربــان دئ
پـر ما ډېــر ګــران دئ
زه هم پر پلار ګران يـم
د پلار پر لار روان يـم
راوړي کالــي راتــــه
ښــــه ګلالــي راتــه
هر وخت ډوډۍ راکوي
خپله مــــړۍ را کوي
راتـه مېــــوې راوړي
شيدې مستــې راوړي
کلــه کتــاب راکوي
کلــه حســـاب راکوي
چي زه سـواد پيدا کړم
حق بـــه يې زه ادا کړم
اوس چي مو سبلاب زده کړ راځئ چي اوس د شعر دوهم مهم تکی (قافیه) زده کړو!

## ٢- قافیه:

قافیه پــه لغات کي وروستــه او د غاړي پـای تـه وايي. ځکه نو په نظمي (منظومو) شعـرونـو کي د شعر هغي برخي تـه ویل کیږي کـوم چي د نظم (شعر) په پای کي را غلي وي. په دي شرط چي هغه یوه کلمه به یو شان د نورو بیتونو د دوهم نیم بیتي په پای کي تکرار نه وي را غلي لکه په لاندي شعر کي:

| | |
|---|---|
| پــر مـا ملګري دي ګران | دوی دي پـــر ما مهربان |
| موږ یـــو ځای لوبي کوو | کړو تــوپ بازي پر میدان |
| کلـــه دمبی کوو موږ | خپل موټرک کـــړو چالان |
| هــم اکوبـــکو کـــوو | کله وایـــو بــه چیستان |
| یـــو چـــي کیـــسه وایي | نور غوږ نیسي په ښه شان |
| کلــه سنـــدري وایـــو | خوشالــه ناست یو خندان |
| پـــر سـړک لـــوبي نکړو | ځکــه خطـــر دئ د ځان |

په لوړ شعر کي د هر دوهم نیم بیتي په پای کي (ان) راغلئ دئ چي د دغه شعر قافیه ده.

په نظم کي سیلاب او قافیه تر هر څه مهم دي. د ټول نظم رواني او خوند د دغو دوو شیانو په اساس تلل کیږي.

تمرین :

۱- د لاندي شعر (نظم) قافیه پیدا کئ!

غـــومبـــــر وهـــه کوتري
نـخپـــــږه بـــخـتـــــوري
اواز دي خـــوږ لګـــــیږي
زړګی مي پرې ښه کیـــږي

۲-